د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

دوشنبه ۱۰ رمضان ۱۴۳۸هـ | ۰۵-۰۶-۲۰۱۷م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۸/۰۵

**مطبوعاتي اعلامیه**

# امریکا له خونړیو چاودنو او قومي حساسیتونو څخه د ګټونکي کارت په توګه کار اخلي

حزب التحریر-ولایه افغانستان په کابل کې وروستي خونړي بریدونه په سختو ټکو غندي او د دغو پېښو په اړه د لاندې ټکو بیانول اړین ګڼي:

د وروستیو پېښو له پېچلتیا او پراختیا څخه دا څرګندیږي، چې په افغانستان کې مېشت بهرني یرغلګر ځواکونه، استخباراتي کړۍ او د هغوی کورني لاسپوڅي په دا ډول وحشیانه پېښو کې لاس لري. یرغلګر له «تروریزم» سره د مبارزې په پلمه، د افغانستان د مسلمان ولس له پاکو وینو څخه، د ګټونکي کارت په توګه، د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره کار اخلي. امریکا له چاودنو وروسته د منځ ته راغلو قومي حساسیتونو څخه په ګټه اخیستنې سره هڅه کوي، ترڅو د عامو خلکو، قومونو او سیاسي ډلو تر منځ د نفاق اور بل کړي او خپلې استعماري واکمنۍ ته ادامه ورکړي. لکه څنګه چې امریکا عراق او سوریه د ورته ستراتیژۍ په مټ د مذهبي تفرقې له لارې په کورنۍ جګړه او ورور وژنه اخته کړل.

د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس باید د قومي شخړو پر ځای چې اسلام قطعي حرامې کړې دي، د وحشت او ترور د اصلي جرړو پر اېستلو تمرکز وکړي، کوم چې د امریکا او ناټو استعمار دی. هغوی باید د نبوت پر منهج د راشده خلافت د تاسیس او د کفارو د واکمنۍ د له منځه وړلو لپاره سره یو موټی شي.

**((لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ))**

(رواه ابو داود)

له موږ څخه نه دی؛ هغه څوک چې عصبیت «قوم، نژاد او ژب پالنې» ته بلنه کوي او له موږ څخه نه دی؛ هغه څوک چې د عصبیت «قوم، نژاد او ژب پالنې» لپاره جګړه کوي او له موږ څخه نه دی؛ هغه څوک چې د عصبیت «قوم، نژاد او ژب پالنې» لپاره وژل کیږي.

**د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**